داخلي بورسونو ته د دولتي لوړو زده کړو بنسټونو د علمي کادر غړو د پېژندلو شرايط:

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده، داخلي بورسونو ته د علمي کادر غړي له څو رياستونو څخه پېژندل کېدل، اما اوس د لوړو زده کړو وزارت علمي معينيت شورا کې پرېکړه وشوه څو د علمي کادر غړو د علمي او مسلکي ظرفيت د لوړاوي اړوند چارې او داخلي بورسونو ته د هغوی معرفي کول دې د استادانو د تقرر او علمي ترفيعاتو رياست له لارې ترسره شي.

بنآ، د هېواد د لوړو زده کړو ټول محترم بنسټونه دي د **لوړو زده کړو وزارت د علمي معينيت شورا د ۵/۱۲/۱۴۴۵ نېټې د ۷ ګڼې پرېکړې** پر بنسټ، داخلي بورسونو ته د معرفي کولو په موخه خپل د علمي کادر غړي د لاندې شرايطو پر بنسټ دې رياست ته را وپېژني:

۱. د پوهنتون يا پوهنځي رياست ته د علمي کادر غړي لخوا غوښتنليک.

۲. د پوهنځي او دپارټمنټ شورا د هوکړې يا موافقې اخيستل او د دپارټمنټ د پروتوکول په کتاب کې د پوهنځي د تائيدی وروسته ثبتول.

۳. ماسټری برخه کې هغه علمي کادر غړي ته لومړيتوب ورکول چې لسانس تحصيلي سند لري او په خپل اړونده دپارټمنټ کې يې لږ تر لږه ۳ کاله تدريسي ـ مکلفيت ادا کړی وي. اما که د دپارټمنټ ټول علمي کادر غړي د تحصيلي سند له ارخه په يوه سطحه کې وي، نو هغه علمي کادر غړي ته دې لومړيتوب ورکړل شي چې تدريسي خدمت موده يې له نورو ډېره وي.

۴. دکتورا برخه کې هغه علمي کادر غړي ته لومړيتوب ورکول چې ماسټری تحصيلي سند لري او د ماسټری تحصيلي دورې وروسته يې په خپل اړونده دپارټمنټ کې لږ تر لږه ۳ کاله تدريسي ـ مکلفيت ادا کړی وي. او که د دپارټمنټ ټول علمي کادر غړي د تحصيلي سند له ارخه په يوه سطحه کې وي، نو هغه علمي کادر غړي ته دې لومړيتوب ورکړل شي چې د تدريسي خدمت موده يې له نورو ډېره وي.

۵. لوړو زده کړو بنسټ هغه وخت خپل علمي کادر غړی بورس ته پېژندلی شي چې، د هغه تدريسي مکلفيت ترسره کېدل د نورو علمي کادر غړو په مټ ممکن وي، پوهنځی او دپارټمنټ هم د تدريسي خدمتونو په وړاندې کولو کې د علمي کادر غړو د کمښت د ستونزې سره مخ نشي.

۶. هغه دپارټمنټونه چې ۴ علمي کادر غړي لري، يوازې يو تن علمي کادر غړی يې بورس ته پېژندل کېدی شي اما، هغه دپارټمنټونه چې علمي کادر غړي يې له ۴ تنو لږ وي، هغه وخت بورس ته پېژندل کېدی شي چې تدريسي مکلفيت يې پاتې علمي کادر غړي پر غاړه واخلي او يا هم بورس ته معرفي کېدونکی د علمي کادر غړی، دپارټمنټ او پوهنځي ته په اونۍ کې دوه يا درې ساعته د تدريسي مکلفيت ادا ينې اړوند کتنې ژمنه ورکړي.

۷. لوړو زده کړو بنسټونه دې داخلي بورسونو ته د دپارټمنټونو د علمي کادر غړو په پېژندلو کې هغه علمي کادر غړو ته لومړيتوب ورکړي چې له داسې تحصيلي امتياز څخه برخمن شوي ندي.

۸. هغه علمي کادر غړي چې داخلي بورس ته پېژندل کېږي اما نتوانېږي چې تحصيلي دوره په بريالیتوب سره بشپړه کړي او يا هم د شرعي او کره عذر او دليل پرته ناکامه کېږي. د کادري بست څخه منفک او د تحصيلي دورې خسارې ور څخه اخيستل کېږي. ولې د اسنادو د وړاندې کولو په صورت کې چې وښيي شرعي عذر شتون لري، موضوع د وزارت رهبری شورا ته د پرېکړې په موخه لېږل کېږي.

۹. د علمي کادر هغه غړي چې، د دکتورا او ماستری سند په درلودلو سره غواړي يا د ماستری او دکتورا سند تر لاسه کړي په هغه صورت کې کولای شي چې، د تحصيلي رشتې سره سمون ولري او په هېڅ ډول خلاف د تحصيلي رشتې نوي. که پخوانی دکتورا او ماستری سند يې د تحصيلي رشتې خلاف وي، يو ځل يا د تحصيلي رشتې سره سم يا لږ تر لږه ۶۰٪ سلنه د رشتې د ورتې والې، د څانګې او د پوهنځي د شورا د موافقې لرلو په صورت او همدا رنګه په دپارټمنټ او پوهنځي کې د بل وړ علمي کادر غړي د نشتون په صورت کې داخلي بورس ته پېژندل کېدلای شي.

۱۰. داخلي بورس ته معرفي شوی علمي کادر هيڅ غړی نشي کولی د تحصيلي بورس په جريان کې له امارتي يا خصوصي ادارو سره همکاري يا دنده ترسره کړي.

۱۱. داخلي بورسونو ته د هغه جدول پر بنسټ علمي کادر غړي پېژندل او د هغوی څخه د هغې ژمنې پانې پر بنسټ په بريالي توګه د تحصيلي دورې د کتبي ژمنې اخيستل چې د دې رياست لخوا په بېلو پانو کې جوړ او د دې شرايطو سره مل دي.

۱۲. د علمي کادر هغه غړي چې د ماستری سند لري، د ديني تخصصاتو برنامه کې شامل کېدلای شي.

۱۳. د علمي کادر هغه غړي چې د عالمي دورې سند لري، ديني تخصصاتو جامعاتو ته هغه وخت پېژندل کېدی شي چې د پورته شرايطو سرپېره، ديني رساله يې دفاع او د عالمي دورې سند يې هم له وراندې تائيد او ارزيابي شوی وي.

۱۴. لوړو زده کړو بنسټ ته په بريالي توګه د تحصيلي بورس د دورې د بشپړولو اړونده کتبي ژمنه ورکول.

۱۵. د پورته شرايطو د لاسليک او انفاذ وروسته، د علمي کادر هيڅ غړی د دپارټمنټ او پوهنځي د شورا د موافقې/هوکړې پرته، او د دې رياست له ادرسه د اړونده چارو د طی مراحلو پرته، نشي کولی د داخلي ماستری او دکتورا برنامو ازموينو لپاره نوم ليکنه وکړي.

شرایط معرفی اعضای کادر علمی نهاد های تحصیلات عالی دولتی به بورس های داخلی:

طوریکه در جریان قرار دارید؛ معرفی اعضای کادر علمی به بورسهای داخلی قبلا از آدرس چندین ریاست صورت میگرفت، اما اکنون در شورای معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی فیصله شد تا ارتقای ظرفیت علمي و مسلکی اعضای کادر علمی و توحید سازی اجرآت امور مربوطه، و معرفی آنها به بورس های داخلی فوق لسانس از آدرس ریاست تقرر و ترفیعات علمی استادان طی مراحل گردد.

بنآ، طبق فیصله مصوبه شماره ۷ مؤرخ ۱۴۴۵/۱۲/۵ شورای محترم معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی، تمام نهاد های تحصیلی کشور، منبعد معرفی اعضای کادر علمی خویش به بورس های داخلی را با در نظرداشت شرایط و معیار های ذیل به این ریاست معرفی نمایند:

۱- ورقه درخواستی توسط عضو کادر علمی به ریاست پوهنتون یا پوهنځی مربوطه.

۲- اخذ موافقه شورای پوهنځی و شورای دپارتمنت و ثبت آن در پروتوکول دپارتمنت مربوطه با تائیدی ریاست پوهنځی.

۳- در بخش ماستری به عضو کادر علمی اولویت داده شود که دارای درجه تحصیلی لسانس بوده و حد اقل 3 سال مکلفیت درسی را بعد از دوره لسانس در دپارتمنت مربوطه سپری نموده باشد. و در صورتیکه تمام اعضای کادر علمی دپارتمنت از لحاظ درجه تحصیل در حالت یکسان قرار داشته باشند به عضو کادر علمی اولویت داده شود که مدت خدمت شان بیشتر باشد.

۴- در بخش دکتورا به عضو کادر علمی اولویت داده شود که دارای درجه تحصیلی ماستری بوده و حد اقل 3 سال مکلفیت درسی را بعد از دوره ماستری در دپارتمنت مربوطه سپری نموده باشد. و در صورتیکه تمام اعضای کادر علمی دپارتمنت از لحاظ درجه تحصیلی در حالت یکسان قرار داشته باشند به عضو کادر علمی اولویت داده شود که مدت خدمت شان بیشتر باشد.

۵- نهاد تحصیلی زمانی عضو کادر علمی خویش را به بورس داخلی معرفی کرده میتواند که انجام مکلفیت تدریسی وی توسط اعضای کادر علمی دیگر ممکن باشد و نیز دپارتمنت و پوهنځی در عرضه خدمات تدریسی با مشکل و یا کمبود عضو کادر علمی مواجه نشود.

۶- دپارتمنت های که حد اقل دارای چهار عضو کادر علمی باشند، تنها یکتن از اعضای کادر علمی شان به بورس داخلی معرفی شده میتواند اما آنعده دپارتمنت های که اعضای کادر علمی شان کمتر از چهار عضو باشند، در صورت به بورس معرفی شده میتوانند که مکلفیت تدریسی وی را اعضای باقی مانده دپارتمنت مربوطه به عهده گیرند و یا هم عضو کادر علمی معرفي شونده به بورس، تعهد کتبی مبنی بر انجام دادن مکلفیت تدریسی دو یا سه روز در هفته را به پوهنځی یا دپارتمنت ارائه کند.

۷- نهاد تحصیلی در معرفی اعضای کادر علمی دپارتمنت ها به بورس های داخلی، به آنعده از اعضای کادر علمی اولویت دهند که قبلاً از امتیاز چنین برنامه های تحصیلی مستفید نشده باشند.

۸- اعضای کادر علمی که به بورسیه تحصیلی داخلی معرفی میشوند اما دوره تحصیلی خویش را مؤفقانه تکمیل کرده نتوانند و یا هم بدون عذر شرعی و دلایل مؤجه ناکام گردند، از بست کادری منفک گردیده و از نزد شان جبران خساره اخذ میشود اما در صورت ارائه اسناد مبنی بر داشتن عذر موجه و شرعی، موضوع به شورای رهبری وزارت جهت اتخاذ تصامیم بعدی محول میگردد.

۹- آنعده از اعضای کادر علمی که با وجود داشتن سند دکتورا و ماستری، مجدداً خواهان اخذ ماستری و دکتورا دومی باشند، در صورت میتوانند، که ماستري و یا دکتورا شان مرتبط به رشته تحصیلی باشد و به هیچ صورت خلاف رشته معرفی شده نمیتوانند، در صورتیکه ماستری و دکتورا قبلی شان خلاف رشته باشد، مجدداً مطابق به رشته و یا هم حد اقل با نظر داشت شصت فیصد مشابهت رشتوی، موافقه دپارتمنت و شورای پوهنځی و عدم موجودیت عضو دیگر مستحق کادر علمی در دپارتمنت و پوهنځی به بورس معرفی شده میتواند.

۱۰- هیچ عضو کادر علمی معرفی شده به بورس نمیتواند در جریان دوره تحصیلی (بورس) با ادارات امارق و یا خصوصی ایفای وظیفه و یا همکاری نماید.

۱۱- معرفی کردن اعضای کادر علمی به بورسهای داخلی و اخذ تعهد کتبی، مبنی بر اتمام مؤفقانه دوره تحصیلی بر اساس تعهد نامه و جدولیکه مشخصاتیکه توسط این ریاست ترتیب و در اوراق جداگانه ضم این شرایط میباشد.

داخلي بورسونو ته علمي کادر غړي، د هغه جدول پر بنسټ پژندل چې د دې ریاست لخوا ترتیب او له وړاندې د لوړو زده کړو بنستونو سره شریک شوی.

۱۲- آنعده از اعضای کادر علمی که سند ماستری دارند، میتوانند شامل برنامه تخصصات دینی شوند.

۱۳- آنعده از اعضای کادر علمی که سند دوره عالیه را با خود دارند، وقتی به جامعات تخصصات دینی معرفی شده میتوانند که برعلاوه داشتن شرایط فوق، رساله آن دفاع شده و سند دوره عالیه شان نیز از قبل ارزیابی و تائید شده باشد.

۱۴- و سپردن تعهد کتبی به نهاد تحصیلی مربوطه مبنی بر سپری کردن مؤفقانه دوره تحصیلی.

۱۵- بعد از امضاء و انفاذ شرایط فوق، هیچ عضو کادر علمی بدون موافقه قبلی دیپارتمنت و شورای پوهنځی، و طی مراحل امور آن از آدرس این ریاست، به امتحان شمول برنامه ماستری و دکتورای داخلی ثبت نام کرده نمیتواند.

انځور

داخلي بورسونو ته د علمي کادر غړو د معرفي کولو ژمن ليک

۱. داخلي بورسونو ته د علمي کادر غړو د معرفي کولو شرايط لولم او په جدي توګه يې عملي کوم.

۲. دا بورس خپل د هېواد ملي شتمنې او د اسلامي امارت اعتماد پر خپل ځان ګڼم او په بريالي توګه پای ته رسول يې خپل مسؤليت بولم.

۳. د خپل ولس د تحصيلي اړتيا د پوره کولو، د تخصص د تر لاسه کولو او د علمي ظرفيت د لوړاوي لپاره، د تحصيلي چاپېريال ټولې شته نيمګړتياوي او ستونزې زغم او اړونده اصول پوره مراعتوم.

۴. د شرعي او کره عذر د نشتون په صورت کې چې د بورس په جريان کې ناکامه پاتې کېږم نو د تحصيلي دورې ټول لګښت د اسلامي امارت بودجې ته تاديه کوم.

۵. د تحصيلي دورې پرېښودلو او پښېمانه کېدل د اصولو خلاف او تخطي ګڼم او چمتو يم چې زما سره د لوړو زده کړو وزارت لخوا اصولي چلند وشي.

۶. د تحصيلي دورې د بشپړولو وروسته، د تحصيلي دورې معادل د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې دنده تر سره کوم.

۷. د تحصيلي بورس د ټولو شرايطو او تخصصي ـ رشتې څخه خبر يم، چې د بدلولو حق يې د لوړو زده کړو وزارت له خوا راته رانکړل شي نو هيڅ راز شکايت نکوم او خپل تحصيل ته ادامه ورکوم.

۸. د تحصيلي دورې د پيل تر پايه ټول اسناد مې اصلي او تائيد شوي دي او که جعل او تزوير پکې شوی وي، مسؤليت يې منم او لوړو زده کړو وزارت ته د مادي او معنوي خسارې د ورکولو لپاره چمتو يم.

۹. که د بورس تحصيلي دوره په ځانګړې موده کې زما لخوا پوره نشي ـ، هر راز بعدي مسؤليت يې زما پر غاړه دی.

۱۰. د اشدې اړتيا په صورت کې چمتو يم چې په خپل پوهنتون کې تدريسي ـ مکلفيت ومنم او تحصيلي بورس ته هم ادامه ورکړم.

۱۱. د دې بورس پر امکاناتو او سهولتونو قناعت لرم او له دې زيات هيڅ راز مادي توقع هم نلرم.

زه ( ) د ( ) زوی د ( ) نمبر

تذکرې لرونکی د ( ) پوهنتون علمي کادر غړی/کارمند د

( ) ولايت اوسېدونکی ژمنه کوم څو د ( ) دورې بورس ته

په پټرندلو، پورته ټول ياد شوي موارد منم او ورته ژمن پاتې کېږم.

وزارت تحصيلات عالی
ریاست دفتر
Office Directorate
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معينيت

د استادانو د تقرر او علمي ترفيعاتو رياست

د علمي کادر غړو د علمي او مسلکي ظرفيت د لوړاوي آمريت

داخلي بورسونو ته د علمي کادر غړو د پژندلو د بشپړ مشخصاتو جدول:

ش	بشپړ نوم	د پلار نوم	د نيکه نوم	علمي رتبه	پوهنتون/مرسسه	پوهنځی	ديپارتمنت	د ديپارتمنت پروتوکول او نمبر	د پوهنځي پروتوکول او نمبر	د مکتوب شمېره	د مکتوب نمبر	هغه پوهنتون چې نوم ليکنه يې کړي ده	د زوم ليکې رشته	ماسټري/دوکتورا	اړوکی شمېره	کلنۍ
۱																
۲																
۳																
۴																
۵																
۶																
۷																
۸																
۹																
۱۰																